Share
Twittern

۲۰۱۲/۰۶/۰۷

دجمهوری ریاست مطبوعاتی دفتر

د شانگهای د همکاریو سازمان په سر مشریزه کي

# د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس حامد کرزي د وينا متن

د ۱۳۹۱ کال د غبرگولي اتلسمه، بیجینگ

بسم الله الرحمن الرحیم

**د چین جمهور رئیس او د کنفرانس محترم رئیس، جلالتمآب هوجینتاو،**
**جلالتمآبانو جمهورو رئیسانو او د هیوادونو مشرانو،**
**گډونوالو محترمو پلاوو،**
**میرمنو او ښاغلو!**

جلالتمآب جمهور رئیس هوجینتاو، چین ته د خپل سفر په جریان کي ستاسو د گرمي او صمیماني میلمه پالني له امله مننه کوم. همدا راز د شانگهای د همکاریو په سازمان کي د "ناظر" هیواد په توگه د افغانستان د غوښتني د منلو له امله ددغه سازمان له غړیو هیوادونو څخه مننه کوم.

**جلالتمآب جمهور رئیس، د شانگهای سازمان محترمو غړیو!**

په دي سازمان کي د ناظر هیواد په توگه د افغانستان نوي موقف او په افغانستان کي د وضعیت او همکاریو لرلید ته په کتو، یو ډیر مهم گام پورته شوی دی. ښایي زما خبري لږ اوږدي شي، ستاسو له حوصلي نه له مخکي مننه کوم.

په افغانستان کي تیري دری لسیزي په حقیقت کي د افغانستان د خلکو لپاره ډیري دردوونکي او رنځ لرونکي وې او دا دری لسیزي په سیمه کي او له سیمي هاخوا د افراطیت د پراختیا شاهدي دي. ددغو ستونزو لاملونه ټولو ته ښکاره او معلوم دي. کله چي موږ د پخواني شوروي اتحاد په وړاندي مبارزه پیل کړه، نوري نړی له موږ سره مرستي پیل کړي چي یوه پایله یي په افغانستان کي د مذهبي افراطیت ترویج او پراختیا وه. د وخت د شوروي اتحاد له ړنگیدو او له افغانستان سره د نړی او غرب د لېوالتیا له پاي ته رسیدو وروسته په افغانستان کي افراطیت او ترویج یي د سل گونو میلیون ډالرو په مرسته او ملاتړ پیاوړی پاتي شو. په افغانستان کي افراطیت مخ په زیاتیدو شو او نتایجو یي پر ټوله سیمه او په ځانگړي ډول پر پاکستان هم اغیز وکړ. د سپتمبر د ۱۱مي له پیښي وروسته متحده ایالات او ناټو سازمان افغانستان ته راغلل. د افغانستان خلکو دیته په کتو سره چي هیواد یي د طالبانو او القاعدې له منگولو خلاص شو او په افغانستان کي بهرنیو لاسوهنو ته د پای ټکی کیښودل شو، امریکا او ناټو ته هرکلی ووایه.
په تیرو لسو کلونو او د نړیوالي ټولني په شتون کي افغانستان په بیلابیلو لکه ښوونې او روزنې، روغتیا، اقتصاد او نورو برخو کي د نړیوالي ټولني او په غونډه کي د حاضرو هیوادونو په مرسته او همکاری ډیر پرمختگونه تر لاسه کړي دي.

افغانستان د ملتونو تر څنگ خپل ځای موندلی او له نړیوالو سره یي خپلي اړیکي له سره ټینگي کړې. په حقیقت کي افغانستان هیڅکله هم د نن ورځي په شان له نورو هیوادونو سره د پراخه او صمیمانه اړیکو درلودونکی ندی پاتي شوی.

له خپلو گاونډیو سره زموږ د سوداگری کچه څو ځلي لوړه شوي ده. په ۲۰۰۱ کال کي مو له پاکستان سره د سوداگری کچه په کال کي ۲۵ میلیون ډالره وه، په داسي حال کي چي دا اندازه اوس دوه میلیارد ډالرو ته رسیږي. له ایران سره مو د راکړي ورکړي کچه له ۵۰۰ میلیون ډالرو نه هم اوړي. دغه راز له چین، روسیې، تاجکستان، ترکمنستان،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ازبکستان او نورو هېوادونو سره هم د سوداګرۍ په برخه کې د پام وړ ښه والی راغلی دی او موږ له دې اړخه خوشحاله یو.

په سیاسي برخه کې هم د افغانستان اړیکو په څرګند ډول وده کړې ده. په افغانستان کې د امریکا او ناټو پر شتون سربېره موږ توانېدلي یو چې له خپلو ګاونډیو او د سیمو له هېوادونو سره د اړیکو توازن وساتو.

خو له تروریزم او افراطیت سره په مبارزه کې چې څه ډول زموږ هیله وه، بریالي شوي نه یو او دلیل یې څه دی؟ زموږ د افغانانو په فکر، دوه عمده دلیلونه لري، لومړی: سیمه ییزه نه همکاري او دویم د ناټو لخوا له یو اړخیز رول نه استفاده ده چې یو مثال یې له افغان امنیتي ځواکونو څخه ډېر وروسته د ملاتړ پیلول دي.

بریا ته هغه وخت رسېدلای شو چې هېوادونه او په ځانګړي ډول افغانستان او پاکستان د تروریزم او افراطیت په وړاندې په مبارزه کې په صادقانه ډول همکاري وکړي. دې دوو هېوادونو په تېرو لسو کلونو کې ډېر تماسونه او اړیکې درلودې او دغه اړیکې او تماسونه څلور کاله مخکې د جمهور رئیس زرداري تر مشرۍ لاندې د دیموکراتیک نظام په رامنځ ته کېدو سره زیات شوي دي.

په دې برخه کې موږ ډېر پراخه بحثونه او تماسونه لرلي دي، په دې برخه کې له هندي دوستانو سره هم په تماس کې یو، له ایران او نورو ټولو ګاونډیانو، چین او نورو سره هم په تفاهم کې یو. نو په همدې اساس، د تروریزم او افراطیت په وړاندې مبارزه کې کامیابي د افغانستان او پاکستان تر منځ له صادقانه او پرېکنده همکارۍ سره تړلې ده او په دې ناسته کې د حاضرو هېوادونو غوښ ملاتړ غواړي.

**د دولتونو او حکومتونو محترمو رئیسانو!**

ددغو پدیدو په وړاندې زموږ ټولو نه موفقیت او غوښ ملاتړ، له شک پرته په سیمه کې د افراطیت د ودې او زیاتوالي لامل ګرځي او تروریزم چې اوس مهال افغانستان، پاکستان، هند، روسیه، چین او نور متاثر کړي دي، له پخوا نه به زیات پراخه شي.

په همدې اساس، په اطمینان او ښکاره توګه ویلای شم چې له دې پرته بله لار نشته تر څو ددې سیمې د اوسیدونکو په توګه یو بل ته لاس ورکړو او ددې شومې پدیدې په وړاندې په حقیقي، غوښه او صادقانه توګه مبارزه وکړو. فکر نه کوم چې ناټو به وکولای شي زموږ ټولې اړتیاوې پوره کړي، ښایي یو څه به وکولای شي، خو زما په فکر نورې پاتې او مهمې یې زموږ د ګډو کارونو په پایله کې رفع کېږي.

**جلالتمآبانو، مېرمنو او ښاغلو!**

افغانستان به له ناټو او آیساف ځواکونو څخه افغان حکومت ته د امنیتي مسؤولیتونو د لېږد بهیر به په بشپړ ډول تطبیق کړي، په دې معنی چې تر ۲۰۱۳ کال پورې به افغانستان د ټول هېواد د امنیت د ټینګښت مسؤولیت په خپله غاړه ولري. تر راتلونکو شپږو میاشتو پورې به افغانستان د خپل ۷۵ فیصده نفوس د امنیت د ټینګښت دنده په غاړه ولري او د ۲۰۱۳ کال تر پایه به ټول هېواد او د افغانستان اوسیدونکي د هغوی د خپلو امنیتي ځواکونو لخوا ساتل کیږي او امنیت به یې ټینګیږي.

د ۲۰۱۴ کال تر پایه به ناټو له افغانستان څخه بهر شي او افغانستان به په خپله په هېواد کې د امنیت د ټینګښت او حکومتوالۍ دنده په غاړه ولري، نو په دې اساس، د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو او په دې ناسته کې د حاضرو هېوادونو غوښ ملاتړ ته به اړتیا موجوده وي.

په شیکاګو کې د ناټو د غړیو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې د ناټو سازمان غړیو هېوادونو او متحده ایالتونو له ۲۰۱۴ نه تر ۲۰۲۴ پورې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره د څلور اعشاریه یو میلیارد ډالرو ژمنه وکړه. زما باور دی چې د افغانستان د ګاونډیو، د سیمې د نورو هېوادونو او شانګهای سازمان د شورا لپاره هم مهمه ده چې د افغانستان له امنیتي ځواکونو څخه ملاتړ وکړي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ له متحده ایالاتو او نورو هېوادونو لکه هند، آلمان او نورو سره په دې موخه د ستراتیژیکو همکاریو موافقتنامې لاسلیک کړې تر څو دغه موافقې وکولای شي د افغانستان د امنیتي ځواکونو په ملاتړ، د افغان ځوانانو په ظرفیت او وړتیا کې د ارتقا او زموږ د ټولنې د اقتصادي بنسټونو په بهبود کې مفید واقع شي. ددغو ستراتیژیکو همکاریو سندونه دګاونډیو او سیمې د هېوادونو سره له مشورې وروسته لاسلیک شوي دي.

**ښاغلی رئیس، ګډونوالو محترمو غړیو!**

افغانستان د شانګهای سازمان ، ددې سیمې، د سارک سازمان د غړي او د نړۍ په دې څنډه کې د یوه اوسیدونکي په توګه درک کړېده چې ستاسو په مرسته به سوکاله شي او ستاسو له مرستې پرته به رنځ وړي. خو، پېښو دا ثابته کړېده چې د افغانستان د خلکو درد او رنځ یوازې په دې هېواد کې محدود ندی پاتې شوی ، بلکې ګاونډیو ته یې هم سرایت کړی دی. ددې حقیقت په درک کولو سره هیله لرم چې له دې وروسته به ددغې ناستې هېوادونه له افغانستان سره ډېر نږدې کار وکړي او موږ ته ګډ متوجه خطرونه به درک او په ګډه به له افغانستان او پاکستان سره د تروریزم په وړاندې مبارزه کې همکار واوسي. دغه راز زموږ هیله دا ده چې دغه مجمع به له افغانستان او پاکستان سره همکار وي تر څو د تروریزم په وړاندې مبارزه کې یوه بریالۍ او بشپړه طرح په لاره واچول شي.

**مېرمنو او ښاغلو!**

خوښ یو چې په اقتصادي برخه کې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو زموږ په هېواد کې پانګونه کړې ده، لویه پانګونه د چین هېواد او ورپسې هند کړې ده او هیله لرم چې روسیې تر منځ به د پانګونې شرایط له پخوا نه ډېر مساعد شي. افغانستان د خپلو اساسي بنسټونو په بیا رغولو پیل کړی تر څو وکولای شي د سیمې د نښلونکي ټکي په توګه خدمتونه وړاندې کړي. په دې برخه کې موږ د تاپي په نوم د ګازو د نل لیکې د پروژې بشپړولو او د کاسا۱۰۰۰ په نوم د برېښنا د لېږد پروژې ته ژمن یو. افغانستان له تاسو سره ژمنه کوي چې ددغه هېواد له خاورې نه به د هېڅ ګاونډي هېواد پر خلاف استفاده ونشي، او افغانستان همدا ډول تمه لري. زموږ او د ګاونډیانو تر منځ ګډ ژوند په حقیقت کې د ټولې سیمې د مصؤونیت او امنیت لپاره تضمین ګڼل کېږي.

**جلالتمآب جمهور رئیس!**

افغانستان په دې موده کې د چین هېواد لخوا د مرستو او همکاریو له امله مننه کوي او د شانګهای د همکاریو په سازمان د ناظر هېواد په توګه د افغانستان د غوښتنې په برخه کې ستاسو له ملاتړ او د نورو متحدینو له تائید نه مننه کوي. د قرغزستان هېواد ته د یو بل کال لپاره ددې سازمان د ریاست د دورې مبارکي وایي او هغوی ته د بریا هیله کوي.

یو ځل بیا ټینګار کوم چې افغانستان به د یوه بشپړ فعال غړي په توګه په دې سازمان کې ستاسو تر څنګ حضور ولري. ستاسو مرستې ته به اړتیا ولري او هڅه به وکړي چې د راتلونکي د امنیت او ثبات د ټینګښت لپاره هر ډول ممکنه مرستې تر سره کړي.

**ستاسو له پاملرنې مننه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ